مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۱۸** (از ۲٦ ثور الی ۲ جوزا ۱۳۹۴ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه ........ ۲

**توافق‌نامه با آی اس آی؛ نه آن دشمنی، نه این دوستی!**

- تعریف از دشمن مشترک ........ ۴
- استقبال پاکستان از این توافق‌نامه ........ ۴
- عملیات مشترک در دو سوی مرز ........ ۵
- مبارزه با جدایی طلبی ........ ٦
- نتیجه گیری ........ ٦

**د افغانستان په لور د روسيې زياتېدونکي لېوالتيا**

- د روسانو ماتې او د مسکو د تګلارې بدلون ........ ۹
- افغان-روس اړيکې د سپتمبر له يولسمې تر اوسه ........ ۱۰
- د روسيې د زياتېدونکې لېوالتيا او اندېښنو عوامل: ........ ۱۲

1. له سيمې څخه د امريکايانو وتل ........ ۱۲
2. د کابل-واشنګټن د اړيکو خرابوالی اړيکې ........ ۱۲
3. داعش ډله ........ ۱۲
4. نشه‌يي توکي ........ ۱۳
5. د شمال ناامنی ........ ۱۴

## سریزه

د افغانستان او پاکستان د استخباراتي سازمانونو ترمنځ د ګډو همکاریو لاسلیک شوي هوکړه‌لیک، د افغانستان د ملي شورا او یو شمېر پخوانیو افغان چارواکو د مخالفت توند غبرګونونه راوپارول او دا هوکړه‌لیک یې د افغانستان د ملي ګټو په زیان وباله. پاکستان د دغې توافق‌نامې هرکلی کړی او پاکستاني رسنیو یې ځینې مواد هم خپاره کړي؛ خو په افغانستان کې ذهنیت دا دی چې دا توافق‌نامه د پاکستاني لوري په ګټه او د افغان لوري په زیان ده او له همدې کبله یې د لغوه کولو غوښتنه کېږي.

پوښتنه دا ده، چې د دغه هوکړه‌لیک اصلي هدف څه دی؟ او آیا افغان حکومت په رښتیا هم د ملي ګټو ضد هوکړه‌لیک لاسلیک کړی؟ همدا راز د لغوه کېدو یا نه لغوه کېدو اغېزې به یې څه وي؟

د دې ترڅنګ تېره اوونۍ د روسیې د کورنیو چارو وزیر ولادیمیر کولوکولتسف او ورپسې د افغانستان او پاکستان لپاره د روسیې ځانګړی استازی کابلوف کابل ته راغی او له ولسمشر سره یې په سیمه کې د روان وضعیت په اړه خبرې وکړې. مسکو د افغانستان په تړاو بېلابېلې اندېښنې لري او له همدې امله هڅه کوي چې د افغانستان په قضیه کې لېوالتیا وښیي. د افغان-روس د اړیکو مخینې ته په کتو سره، دا دوه اړخیزې اړیکې په کوم لوري روانې دي؟ او د افغانستان په قضیه کې د روسیې وروستۍ لېوالتیا څه عوامل لري؟

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د دې اوونۍ په تحلیل کې پر همدغو موضوعاتو شننې کړې دي.

# توافق‌نامه با آی اس آی؛ نه آن دشمنی، نه این دوستی!



"دشمن افغانستان هیچ‌گاه دوست پاکستان نخواهد شد!" این سخنی بود که نوازشریف صدراعظم پاکستان در سفر اخیر خود به کابل، در جریان کنفرانس مطبوعاتی با رئیس‌جمهور غنی بیان کرد. تعبیر ساده از این سخن این است که تروریسم دشمن مشترک هر دو کشور است و مبارزهٔ مشترک علیه این پدیده ایجاب می‌نماید که پاکستان، دشمن افغانستان را دشمن خود تلقی نموده و با آن به عنوان دشمن برخورد نماید، اما در مقابل از افغانستان نیز انتظار دارد تا با دشمن پاکستان، به عنوان دوست معامله نکند.

این سخن نوازشریف می‌توانست فقط به عنوان یک تعهد دوستانه که در سخنرانی‌های دیپلوماتیک معمول است، تلقی گردد؛ اما افشای این مسئله که میان سازمان‌های استخباراتی دو کشور، یعنی آی اس آی و امنیت ملی افغانستان، توافقنامه‌ای به منظور همکاری‌های مشترک به امضا رسیده است، در افغانستان سروصدا برانگیخت و به خصوص پنهان‌کاری حکومت در افشای متن این توافق‌نامه فرصتی به رسانه‌ها داد تا علیه آن به بسیج اذهان عامه بپردازند و همین موضوع عکس‌العمل‌های تندی را علیه حکومت، حتی در پارلمان نیز موجب شد.

قابل یادآوری است که مدت‌ها قبل از امضای توافق‌نامه، خبر از همکاری میان نهادهای استخباراتی دو کشور در رسانه‌ها منعکس شده بود. مثلا گفته می‌شد که اعضای "آی اس آی" به زندان‌های افغانستان رفته و در آنجا از

زندانیان بازپرسی می‌نمایند. به همین دلیل نیز مقامات امنیتی افغان به خواست آی اس آی، همه زندانیانی را که گفته می‌شود از افراد نسبتا مهم طالبان اند، از ولایات مختلف به زندان بگرام برده‌اند تا کار بازپرسی و تحقیق از آنان توسط آی اس آی، آسان‌تر شود.

## تعریف از دشمن مشترک

عدم اعتماد میان دو کشور در طول سال‌های گذشته دیواری چنان بلند در روابط به میان آورده که نمی‌توان آنرا در کوتاه‌مدت از میان برداشت. در طول سال‌های گذشته در افغانستان، در عقب هر فعالیت تخریب‌کارانه و هر کشتاری که صورت گرفته، متهم اصلی پاکستان تلقی شده است.

دشمن پنداشتن پاکستان و تبلیغ در این مورد به صورت طبیعی موجب اختلاف در تعریف دوست و دشمن میان دو کشور گردیده است؛ به خصوص که دشمن اصلی پاکستان یعنی هندوستان با کمک‌های سخاوتمندانه در طول سال‌های گذشته، به عنوان نزدیک‌ترین دوست افغانستان در منطقه شناخته شده است.

بنابراین دشوار است که در کوتاه‌مدت این تصویر از آی اس آی را که خود امنیت ملی افغانستان نیز به عنوان یک نهاد مطلع از عوامل پشت پردۀ رویدادها، در تقویت آن در اذهان مردم افغانستان نقشی مهم داشت، از میان برداشت و به مردم گفت که مسایلی چون "عمق استراتژیک" و تلاش پاکستان برای مبدل ساختن افغانستان به "صوبۀ پنجم" که به عنوان هدف تغییر ناپذیر رهبران پاکستان در مورد افغانستان از آن نام برده می‌شد، تصوراتی نادرست بوده است و دشمن افغانستان و پاکستان مشترک است.

## استقبال پاکستان از این توافق‌نامه

رسانه‌های پاکستان از این توافق‌نامه استقبال کرده و آنرا قدمی مهم در راه مبارزه با تروریسم دانسته اند. به گزارش رسانه‌های پاکستان، در این توافق‌نامه در کنار اهداف عمومی چون مبارزۀ مشترک علیه تروریسم، مسایل دیگری هم آمده است که بیشتر متضمن منافع پاکستان است؛ از جمله مبارزۀ مشترک علیه سازمان‌های استخباراتی دشمن و مبارزه با جدایی طلبی.

اینکه کدام سازمان‌های استخباراتی در جهان را باید دشمن پنداشت، در این تفاهم‌نامه تعریفی ارائه نشده؛ اما بعد از سفرهای آصف علی زرداری در 7 می و نوازشریف صدراعظم پاکستان در 12 می 2015 به کابل، رسانه‌های پاکستان نوشتند که در این دیدارها، مسئلۀ استفادۀ "را" سازمان استخباراتی هندوستان از خاک افغانستان علیه پاکستان، مورد بحث قرار گرفت.

قبل از سفر نوازشریف و راحیل شریف به کابل، روزنامۀ "نوای وقت" چاپ پاکستان از قول منابع نزدیک به حکومت پاکستان گزارش داد که نوازشریف با موجودیت جنرال راحیل شریف لوی درستیز پاکستان و رضوان اختر رئیس آی اس آی در این سفر، مقامات افغان را از فعالیت‌های شبکۀ استخباراتی "را" در افغانستان آگاه خواهد ساخت و نگرانی خود را از فعالیت‌های هندوستان برای ایجاد عدم استحکام در پاکستان، با مقامات افغان در میان خواهد گذاشت. این مداخلات از طریق افغانستان توسط جدایی طلبان بلوچ در بلوچستان و از جانب تحریک طالبان پاکستان تحت رهبری ملا فضل الله به خصوص در خیبر پشتونخواه، صورت می‌گیرد. مقامات امنیتی پاکستان در این مورد اسنادی را نیز، به جانب افغانی ارائه خواهند نمود.

## عملیات مشترک در دو سوی مرز

قبلا گفته می‌شد که دو کشور به این توافق دست یافته اند که نیروهای شان در دو سوی مرز با هم به عملیات مشترک علیه تروریست‌ها بپردازند، اما بعدا مقامات افغان این شایعات را رد کردند و مقامات پاکستانی نیز تصریح نمودند که نیروهای دو طرف عملیات در دو سوی مرز را هم‌آهنگ به پیش می‌برند و این، به معنای عملیات مشترک نیست.

اما به نظر می‌رسد که عملیات نیروهای پاکستانی در داخل خاک افغانستان شکل دیگری به خود گرفته است. مقامات پاکستانی با درک حساسیت‌هایی که ممکن است مداخلۀ آنان در داخل خاک افغانستان ببار آورد، این کار را توسط سربازانی که یونیفورم نظامی ندارند، در هم‌آهنگی با نیروهای افغان انجام می‌دهند. فرستادن ملیشه‌های این کشور در یک ماموریت اطلاعاتی و تحت پوشش طالبان پاکستانی و جنگ آنان علیه طالبان افغان، می‌تواند جنگ داخلی میان طالبان به شمار آید. کاری که همین اکنون در بعضی از ولسوالی‌های ننگرهار چون نازیان و اچین به راه افتاده و تعداد زیادی از مردم محل را نیز آواره ساخته است.

در ابتدا شایعاتی به گوش می‌رسید که این جنگ میان طالبان افغان و گروه دولت اسلامی "داعش" به راه افتاده است، اما بعد گفته شد که این افراد طالبان پاکستانی اند که به منظور به دست آوردن مناطق بیشتر در شرق افغانستان علیه طالبان افغان می‌جنگند. پاکستانی‌ها مدعی اند که مولانا فضل الله رهبر طالبان پاکستانی با تعدادی از هوادارانش، در همین مناطق پناه گرفته اند و به کمک سازمان استخباراتی هندوستان "را" در داخل پاکستان دست به عملیات می‌زند.

## مبارزه با جدایی طلبی

یکی از مواد این توافق‌نامه، دو طرف را به مبارزۀ مشترک علیه جدایی طلبی متعهد می‌سازد. جدایی طلبی مشکل افغانستان نیست بلکه مشکلی است که در پاکستان وجود دارد و زمانیکه سخن از جدایی طلبی در پاکستان به میان می‌آید، بیشتر منظور بلوچهای این کشور اند.

طبق گزارش روزنامۀ اکسپرس تریبیون و سایر رسانه‌های پاکستان، در جریان مبارزه علیه تروریسم در این اواخر حدود 30 هزار نفر در سراسر پاکستان دستگیر شده‌اند که بیش از ده در صد این گرفتاری‌ها یعنی 3466 تن، در ایالت بلوچستان بوده است.

این نکته مشخص است که در ایالت بلوچستان پاکستان، طالبان پاکستانی دست به عملیات نمی‌زنند و این ایالت بیشتر میدان جنگ جدایی طلبان بلوچ با نیروهای پاکستانی است. دولت پاکستان این جدایی طلبی را ناشی از مداخلات هندوستان از طریق خاک افغانستان می‌داند.

## نتیجه گیری

شکی نیست که کشورهای همسایه نیازمند داشتن روابط خوب با همدیگر اند و این روابط باید بر بنیاد قراردادها و توافق‌نامه‌ها رسمیت یابد. اما هرگونه پنهان‌کاری در این زمینه‌ها به خصوص میان کشورهایی که با هم روابط پرتنش را تجربه کرده‌اند، می‌تواند عکس العمل‌های منفی را به میان آورده و ناباوری‌ها را بیشتر سازد؛ چنانچه افشای امضای این توافق‌نامه میان آی اس آی و سازمان استخبارات افغانستان، موجب عکس العمل‌های تند در

پارلمان افغانستان گردید و حتی این کار با خیانت ملی مترادف به شمار آمد. مخالفت با این تفاهم‌نامه در افغانستان به حدی است که شاید به زودی شاهد لغو آن باشیم، اما الغای آن شاید به ناامنی‌های بیشتر در افغانستان بیانجامد.

مردم پشتون و بلوچ در پاکستان شاید بخشی از دستگیری‌های اخیر در پاکستان را، ناشی از همکاری امنیت ملی افغانستان با آی اس آی بدانند و نسبت به افغانستان بدبین گردند به خصوص که گفته می‌شود دستگیری‌های صوبهٔ سرحد به مسایل دیگری از جمله "کریدور اقتصادی کاشغر" که از گوادر تا سرحد چین باید ادامه یابد، رابطه دارد. قرار بود این راه از مسیر خیبر پشتونخواه بگذرد که روی اقتصاد این منطقه تاثیر مثبت برجا بگذارد، اما حکومت مرکزی در صدد تغییر این مسیر از راه پنجاب است. دستگیری 16813 نفر در صوبهٔ سرحد، با این مسئله هم بی‌ارتباط نیست.

مسایلی از جمله آموزش کادرهای استخباراتی افغان و همکاری‌های تخنیکی که رسانه‌های پاکستانی مدعی اند بخشی از این توافق‌نامه است، از طرف مقامات افغان رد شد. پس سوال این است که نفع افغانستان در این توافق‌نامه چیست؟

# د افغانستان په لور د روسيې زياتېدونکې لېوالتيا



له يوې لسيزې راهيسې د افغانستان په لور د مسکو پاملرنه مخ په زياتېدو ده؛ خو په دې وروستيو کې په افغانستان کې د داعش ډلې د شتون په تړاو پراخو تبليغاتو د مسکو اندېښنې زياتې کړې دي.

په تېرو څو مياشتو کې د افغانستان په اړه د ولاديمير پوتين، د روسيې د بهرنيو چارو وزير لاوروف او د افغانستان-پاکستان په تړاو د مسکو د ځانګړي استازي کابلوف څرګندونې او کابل ته د کابلوف او اوس بيا د روسيې د کورنيو چارو وزير کولوکولتسف سفرونه، د دغه هېواد د زياتېدونکو اندېښنو ښکارندويي کوي.

څو پوښتنې، چې د افغانستان په اړه د مسکو تګلاره کله بدله شوه؟ د افغان-روس اړيکې د سپټمبر له يولسمې راهيسې څه ډول دي؟ او د افغانستان په تړاو د روسيې د زياتېدونکې پاملرنې او اندېښنو تر شا کوم لاملونه دي؟ دلته تحليل شوي دي.

## د روسانو ماتې او د مسکو د تګلارې بدلون

افغانستان له روسيې سره له ډېر پخوا څخه آشنا دی. همدا افغانستان و، چې په نولسمه پېړۍ کې د روسانو او انګريزانو ترمنځ د ستري لوبې د رقابت ډګر وګرځېد. په شلمه پېړۍ کې هم روسيه په اقتصادي او نظامي برخه کې د افغانستان تر ټولو ستر مرستندوی هېواد وګرځېد. روسيې له ۱۹۵۴ څخه تر ۱۹۷۸ کال پورې، له افغانستان سره په نظامي او اقتصادي برخو کې له يو مليارد ډالرو څخه زياتې مرستې وکړې. هغه مهال هم، افغانستان د سترې لوبې په شان يو ځل بيا د زبرځواکونو د رقابت ډګر و؛ خو د انګريزانو پرځای د روسانو په مقابل کې امريکايان وو. امريکايانو هم هغه مهال له افغانستان سره مرستې وکړې، خو د مرستو کچه يې د روسانو په پرتله کمه وه[1]

تر ۱۹۹۱ کال پورې روسانو د خپلې تګلارې له مخې، تر ډېره له هغو حکومتونو سره مرسته کوله، چې يا د دوی همفکره وو او يا په نړېوال سياست کې له دوی سره همغږي وو. خو کله چې دوی په افغانستان کې ماتې وخوړه نو تګلاره يې بدله کړه او د روسيې ولسمشر بوريس يلتسن د ۱۹۹۱ کال د نوامبر له يولسمې څخه د نوامبر تر پنځلسمې پورې د مجاهدينو له اوو تنظيمونو څخه د څلورو تنظيمونو استازو ته، چې مشري يې استاد برهان الدين رباني کوله، په مسکو کې ښه راغلاست ووايه او د روسي اسيرانو د پرېښودو په بدل کې يې له افغانستانه د خپلو مشاورينو د ايستلو او له ډاکتر نجيب الله سره د مرستې نه کولو ژمنه وکړه[2].

له هماغه وخته د افغانستان په لور د روسانو تګلارې بدلون وموند، چې تر ۲۰۰۱ کال پورې يې دوام درلود. هغه مهال روسانو له افغان مجاهدينو سره هم اړيکې ټينګې کړې؛ خو د سپټمبر د يولسمې بريدونو بيا هر څه بدل کړل.

[1] د لويس ډوپري د کتاب "افغانستان" له مخې، امريکايانو په ۱۹۵۰-۱۹۷۱ کلونو کې له افغانستان سره ۲۸۰ مليون ډالره مرستې کړې وې؛ خو هغه مهال بيا د روسانو د مرستو کچه ۶۷۰ مليون ډالره وه. وګورئ، د لويس ډوپري "افغانستان" کتاب، مخونه ۶۳۰-۶۴۱

[2] Richard Weitz, Moscow’s endgame in Afghanistan, Conflict Quarterly, Winter: 1992.

## افغان-روس اړيکې د سپټمبر له يولسمې تر اوسه

کله چې په امريکا کې د سپټامبر د يولسمې بريدونه وشول او په غبرګون کې يې امريکا او ناټو په افغانستان يرغل وکړ، روسيې هم د هغو بريدونو هرکلی وکړ؛ ځکه د طالبانو د امارت پرمهال افغانستان نه يوازې دا چې چيچنيايان په رسميت پېژندلي وو، بلکې د روسيې-چيچنيايانو د ۲۰۰۰ کال جګړې په اوج کې يې په کابل کې د چيچنيا د سفارت پرانيستلو ته هم اجازه ورکړه. همدا لامل و، چې له کابل څخه د طالبانو د وتلو پر مهال د روسيې يو شمېر ډيپلوماتان کابل ته راغلل او په کابل کې يې د ۲۰۰۱ کال د ډسمبر پر ۲۸مه خپل سفارت پرانيست.

د مارېک مينکيسزاک په اند له ۲۰۰۱ کال راهيسې تر اوسه د افغانستان په تړاو د روسيې تګلاره په دريو پړاوونو کې ويشلی شو:

1. له ۲۰۰۱ څخه تر ۲۰۰۲ کاله پورې؛
2. له ۲۰۰۳ څخه تر ۲۰۰٦ کاله پورې؛
3. له ۲۰۰۷ څخه تر اوسه.

په لومړي پړاو کې د روسيې او افغانستان ترمنځ د جګړوړو چارواکو سفرونه تبادله شول او هماغه مهال په افغانستان کې د روسيې لېوالتيا زياته شوه؛ ځکه د افغانستان په لنډمهالي حکومت کې ډېری هغه څېرې وې، چې پخوا د شمالي ټلوالې غړي وو او له مسکو سره يې ښې اړيکې لرلې. له همدې کبله د ۲۰۰۲ کال د فبروری پر ۴مه د روسيې د بهرنيو چارو وزير کابل ته راغی او حامد کرزي ته يې مسکو ته د ورتګ بلنه هم ورکړه. د فبروری پر ۱۲مه مارشال محمد قسيم فهيم مسکو ته ولاړ، هلته يې افغان اردو ته د وسلو رانيولو په تړاو خبرې وکړې؛ د فبروری په ۲۸مه د افغانستان د کورنيو چارو وزير يونس قانوني هم مسکو ته ولاړ. وروسته حامد کرزی هم د روسيې د بهرنيو چارو د وزير په بلنه، دوه ځله مسکو ته ولاړ.

افغان-روس اړيکې له ۲۰۰۳ څخه تر ۲۰۰٦ کال پورې د رکود ښکار شوې؛ خو دغه مهال د افغانستان او روسيې ترمنځ نظامي اړيکې او مرستې د پراخېدو پر لور رواني وې. روسيې له ۲۰۰۲ څخه تر ۲۰۰۵ کال پورې له افغانستان سره د روزنې، پوځي وسايلو او تدارکاتي خدماتو په برخه کې تر ۳۰ مليونه ډالرو پورې مرستې

وکړي[3]. په ۲۰۰۵ کال کې روسیې افغانستان ته د ۳۰ ملیونو ډالرو په ارزښت نظامي تجهیزات او چورلکې ورکړې.

کله چې د حامد کرزي د لومړۍ دورې په وروستیو کې د کابل-واشنګټن اړیکې د خرابېدلو پر لور ولاړې، په ۲۰۰۸ کال کې په امریکا کې اوباما ولسمشریزې ټاکنې وګټلې او د افغانستان د ۲۰۰۹ کال د ولسمشریزو ټاکنو پرمهال ریچارد هالبروک او امریکا د افغانستان په ټاکنو کې لاسوهنه وکړه؛ نو د حامد کرزي اړیکې له امریکا سره خرابې شوې.

د دې ترڅنګ په ۲۰۰۸ کال کې د امریکا او روسیې اړیکې هم، د جورجیا له کبله خرابې شوې. ځکه هغه مهال روسیې د امریکا پر یوه ملګري (جورجیا) نظامي یرغل وکړ او هلته یې د امریکا ګټې وننګولې.

د امریکا-افغانستان اړیکو او د امریکا-روسیې اړیکو له خرابېدو سره افغان-روس اړیکې د ښه کېدو په لور شوې او مسکو د افغانستان له ۱۲ ملیارده ډالرو پورونو څخه، ۱۱.۱ ملیارده ډالر معاف کړل. وروسته یې په ۲۰۱۰ کال کې پاتې ۸۹۱ ملیون ډالره پورونه هم معاف کړل. په ۲۰۱۰ کال کې روسیې د افغانستان ملي اردو ته شل زره کلاشینکوفونه ورکړل، ۲۵۰ پولیس یې وروزل، د نغلو بند بیارغونه یې پیل کړه او په ۲۰۱۱ کال کې خپله حامد کرزی مسکو ته په خپل دربیم رسمي سفر ولاړ[4].

د دې ترڅنګ له ۲۰۰۸ کال راهیسې د افغان-روس خپلمنځي تجارت هم کال په کال زیات شو. په ۲۰۰۸ کال کې دوه اړخیزه سوداګري ۲۰۰ ملیون ډالره وه، په ۲۰۱۰ کال کې ۵۷۱.۳ ملیونه ډالره شوه او په ۲۰۱۳ کال کې یو ملیارد ډالرو ته ورسېده.

وروسته په ۲۰۱۱ کال کې د روسیې لوړپوړی چارواکی، چې د روسیې د پارلمان رئیس و، افغانستان ته په سفر راغی او ورو ورو افغانستان ته د روسي چارواکو سفرونه په زیاتېدو شول. کله چې په افغانستان کې اشرف غني ولسمشریزې ټاکنې وګټلې نو روسیې الکساندر منتسکي، افغانستان ته د خپل نوي سفیر په توګه راولېږه. نوموړی مخکې د روسیې په بهرنیو چارو وزارت کې ډیپلومات او وروسته په هند، پاکستان او نیپال کې سفیر

---

[3] Thomas Ruttig, From Point Zero to 'New Warmth': Russian-Afghan relations since 1989, Afghanistan Analysts Network, 2014

[4] Thomas Ruttig, From Point Zero to 'New Warmth': Russian-Afghan relations since 1989, Afghanistan Analysts Network, 2014

پاتې شوی و. همدا راز افغانستان ته د روسیې د ځانګړي استازي کابلوف تګ-راتګ هم زیات شو. کابلوف تېره اوونۍ د روسیې د کورنیو چارو د وزیر له سفر وروسته کابل ته راغی او له اشرف غني سره یې د روانو حالاتو په اړه خبرې وکړې.

د کابلوف او د روسیې د کورنیو چارو د وزیر کولوکولتسف سفرونه داسې مهال ترسره کېږي، چې په افغانستان کې د داعش په تړاو خبرونه، د افغانستان په شمال کې روانو ناامنیو او د نشه‌یي توکو قاچاق، مسکو اندېښمن کړی دی.

## د روسیې د زیاتېدونکې لېوالتیا او اندېښنو عوامل

دا چې د افغانستان پر لور د روسیې د زیاتېدونکو اندېښنو، پاملرنې، او لیوالیتا تر شا کوم لاملونه دي، په لنډه توګه یې دلته بیانوو:

### 1. له سیمې څخه د امریکایانو وتل

په تېرو څو کلونو کې د روسیې د زیاتېدونکې لېوالتیا، پاملرنې او اندېښنو تر شا په ۲۰۱۴ کال کې له سیمې او افغانستان څخه د امریکایانو د وتلو اعلان و. دغه اعلان نه یوازې دا چې د روسیې لېوالتیا زیاته کړه، بلکې د دوی اندېښنې یې هم زیاتې کړې. له یوې خوا دوی خوښ دي، چې له سیمې او افغانستان څخه امریکایان وځي؛ خو له بلې خوا بیا په افغانستان کې د ځواک د تشې له راتګ سره دوی له دې هم وېره لري، چې هسې نه افغانستان د بې‌ثباتۍ او ناامنیو په لور ولاړ شي او په وروستي قدم کې به منځنۍ آسیا او خپله روسیه هم اغېزمنه کړي. له همدې امله دوی د امریکایانو له دغه اعلان راهیسې له افغانستان سره نظامي مرستې کوي.

### 2. د کابل-واشنګټن د اړیکو خرابوالی اړیکې

یو له هغه لاملونو څخه چې روسیه یې افغانستان ته ډېره نږدې کړه، د جورجیا د قضیې پرمهال د کابل-واشنګټن خرابې اړیکې وې، چې یادونه یې مخکې وشوه.

### 3. داعش ډله

په عمومي ډول له تېرو څو میاشتو راهیسې د روسانو د ډېرې اندېښنو تر شا په افغانستان کې د داعش ډلې د شتون خبره ده. په دې تړاو د روسیې له ولسمشر ولادمیر پوتین، د بهرنیو چارو وزیر لاوروف، د کورنیو چارو وزیر

کولوکوتسف څخه نیولې په کابل کې د روسیې سفیر او د افغانستان او پاکستان لپاره د روسیې تر ځانګړي استازي کابلوف پورې خپلې اندېښنې څرګندې کړې دي.

په افغانستان کې د داعش د نفوذ په تړاو د ۲۰۱۴ په ډسمبر کې پوتین خبرداری ورکړ، چې داعش هڅه کوي، په افغانستان کې نفوذ پیدا کړي[5]. همدارنګه د روسیې د بهرنیو چارو وزیر لاوروف په وینا، داعش د روسیې خاورې ته نږدې کېږي[6]. دغه راز روسیې د ۲۰۱۵ کال په مارچ کې ویلي وو، چې داعش په افغانستان کې نفوذ کړی او اوس د روسیې متحدین ګواښي[7]. وروسته بیا حنیف اتمر د روسیې له بهرنیو چارو وزیر سرګي لاوروف سره په مسکو کې د لیدنې پر مهال وویل، چې روسیه دې ته چمتو ده چې له افغانستان سره د تروریزم پرخلاف په مبارزه کې مرستې وکړي. تېره اوونۍ هم د روسیې د کورنیو چارو وزیر او د افغانستان په تړاو د روسیې د ځانګړي استازي کابلوف سفرونه، په همدې موخه وو.

## 4. نشه‌يي توکي:

د نشه‌يي توکو قاچاق او په روسیه کې یې زیاتېدونکي روږدي هغه بله اندېښنه ده، چې په افغانستان کې یې د روسانو لېوالتیا زیاته کړې ده. د ملګرو ملتونو د یوې سرچینې له مخې روسیه تقریباً د ټولې اروپا د تقاضا په کچه د اپیمو او مخدره موادو روږدي لري (روسیه ۷۰ ټنه او اروپایي اتحادیه ۸۸ ټنه مخدره مواد استعمالوي) او هر کال تقریباً تر یو لکو پورې پر مخدره موادو روږدي کسان مړه کېږي، چې له دېرشو زرو څخه تر ځلوېښتو زرو پورې یوازې روسان دي. د روسانو په اند روسیې ته د مخدره موادو قاچاق تر ډېره له افغانستان څخه کېږي[8]. ځکه افغانستان اوس هم د نړۍ ۹۰ سلنه د نشه‌يي توکو تقاضا برابروي. د روسیې د کورنیو چارو وزیر د سفر له

---

[5] فارس نیوز، پوتین: داعش به دنبال نفوذ در افغانستان است، جدي ۴مه، ۱۳۹۳ کال، پرلیکه بڼه: http://af.farsnews.com/politics/news/13931004000594

[6] فارس نیوز، لاوروف: داعش به خاک روسیه نزدیک می‌شود، د جدی ۴مه، ۱۳۹۳ کال، پرلیکه بڼه: http://www.farsnews.com/newstext.php?nn=13931004000520

[7] صدای روسیه، داعش افغانستان، متحدین روسیه را تهدید می کند، ۵ مارچ ۲۰۱۵، پرلیکه: /http://dari.sputniknews.com/dari.ruvr.ru/news/2015_03_05/283210744

[8] Dmitri Trenin and Alexei Malashenko, Afghanistan: A view from Moscow, Carnegie Endowment, 2010, p: 15

اجنداوو څخه یوه دا هم وه، چې په څه ډول دواړه هېوادونه نشه‌يي توکو په قاچاق کې له یو بل سره همکاري وکړي.

### 5. د شمال ناامنی:

په شمال کې ورځ تر بلې زیاتېدونکې ناامنی؛ په کندز، فاریاب، بدخشان او تخار کې د وسله‌والو مخالفینو زیاتېدونکي عملیات، د روسیې د جګپوړو چارواکو ژورې اندېښنې راپارولې دي. له همدې امله په دې اړه روسي چارواکیو څرګندونې هم کړې دي. روسیه له دې وېره لري، چې هسې نه د دغو ناامنیو لړۍ منځنۍ آسیا او بیا مسکو ته هم وغځېږي.

پای

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com - csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارۀ تماس: 784089590 (+93)